# زېرى

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

چارشنبه د چنګابښ ۷ - ۸ مه او د زمري ۹ - ۱۰مه ګنه، پرله پسې (۴۲۳-۴۲۶) مه ګنه، د ۱۴۰۳ل کال د زمري ۳۱مه، د ۱۴۴۶هـ.ق. کال د صفر ۱٦ مه او د ۲۰۲۴ز.کال د اګست ۲۱مه


تاريکي د معصيت را څخه واخلې
د طاعت په روښنايي مې زړه روښان کړې
الٰهي د خپل حبيب له برکته
دا ساده انشاء رنګينه د رحمٰن کړې
(رحمٰن بابا)

نجيب الله شاداب

## حادثاتي بدلون، د پښتنو ژوند او د قېصر اپريدي شعر

تاريخ خپل ځان هيځکله نه تکراروي د دوه مئينو په دويم ځل د جدايي تجربه د اول په شان نه وي. هره واقعه په خپل زمان او مکان کې خپلې ځانګړتياوې لري. د زماني تغير شعوري او غير شعوري په دواړه ډوله وي. کوم بدلون چې په شعوري توګه رامنځته کېږي د هغې لپاره له مخکې نه تيارى نيول شوى وي، هغه بدلون انسان په حېث د فرد يا په حېث د ټولنې د حادثې په توګه نه اغېزمن کوي. که يو څوک د تېرې زمانې نه په کوم ساينسي يا ديومالايي توګه يو انسان ژوندى کړي او هغه د ننۍ نړۍ ننداره وکړي يقينا دا هر څه به د هغه لپاره نوي او حېران کن وي خو د نن په نړۍ کې ژوند کونکي خلق د خپل معروض هر څيز حېران کن او نوى نه ګڼي خو يو داسې بدلون چې ژوند په کلهمه توګه په خپل اغيز کې اخلي ضرور حېران کن او نوى وي. حېرت او نوښت کوم داسې رد عمل نه زېږوي چې هغه تاواني وي.حېرت په لږ وخت کې په معمول بدل شي او نوښت هم په څه وخت کې زوړ ځاى ونيسي. د نړۍ د ارتقاء رفتار په نړۍ کې يو شان نه دى نو د نړۍ څه بدلونونه د ځينې قومونو لپاره د پرېشانۍ سبب ګرځي ځکه چې د هغه قومونو لپاره دغه بدلون د يوې حادثې نه کم نه وي او حادثه د انسان په ذات کې پرېشاني پيدا کوي خو پرېشاني چې کوم رد عمل زېږوي هغه زيات تاواني وي. په داسې حال چې مونږ د پښتنو ژوند ته وګورو نو دوي د دريمې نړۍ په هغه محکوم قام کې راځي کوم چې تر اوسه د نړۍ هر بدلون د حادثې په توګه متاثره کوي. مونږ که د نن نه لږ وړاندې لاړ شو او د ساينس د لومړنيو ايجاداتو نه پس د نولسمې پېړۍ په ايجاداتو نظر واچوو نو معلومه به شي چې هغه وخت دغه ايجاداتو ته زمونږ رد عمل ښېخي جذباتي وو. که که نن پښتون په هغه هر څه خبر کړاى شي نو دغه هر څه به ورته ټوکه ښکاره شي خو رښتيا دا دي چې زمونږ رد عمل ښېخي د نفي و خو دغه رد عمل بې وجې نه و. د ساينس ځينو ايجاداتو د ځينـــــو قومونو په کاسمالوجي ډېر سخت ګوزارونـــــه کول د دوي هغه مقدس ارزښتونه يې دروغژن ګرځول کومو چې د دوي په ژوند کې غير معمولي حيثيت لرلو. د انساني ټولنې دوه اړخونه داسې دي چې د دې په اقدارو کله هم ګوزار کېږي نو دوي ورته جذباتي غبرګون ښيي يو جنسي او بل مذهبي. زمونږ د ټولنې په يو اړخ که څـــــه هم د هغه وخت ساينس نيغ ګوزار نه و کــــړى خو په مذهب چې کوم ګوزارونه د نويو نظرياتو او ايجاداتو په شکل کې وشول هغې مونږ په دې مجبور کړو چې دې هر څه ته دې يو جذباتي غبرګون وښايو. ملا چې د ټولنې د دغه اړخ ساتونکي او د پښتنو په ټولنه کې د يو اتهارټيټيو حثيت لرلو په دغه جذباتي غبرګون تر ټولو وړاندې و. دې جذباتي غبرګون زمونږ د سوچ کولو توان وا نخيست خو اغېزمن يې ضرور کړ، خو کله چې مونږ په دې هرڅه د سوچ کولو لارې چارې لټول شروع کړې نو نړۍ څو ګامه وړاندې تللي وه او مونږ په دغه وخت کې د ډيورنډ معاهدې او د هند تقسيم نه پس يو بلې داسې حادثې سره مخ شو چې هغې زمونږ ژوند په کلهمه توګه اغېزمن کړ. دغې حادثې زمونږ د ژوند اقدار زمونږ نه وترورل، زمونږ د سوچ او فکر خلک يې د ځان سره لکه د خونړي سيلاب يوړل. مونږ خپل برخليک هغو لاسونو ته حواله کړ چې نه زمونږ لاسونه وو او نه يې زمونږ لپاره حرکت کاوه. په دې کې زمونږ هغو زړو نفسياتو او رد عمل ته منظم شکل ورکړل شو کوم چې له وړاندې د نولسمې پېړۍ د ساينس او نويو نظرياتو رامنځته کېدو سره جوړ شوى و. د افغان وطن دغه غميزه په داسې اوږدې غميزې بدله شوه چې مونږ د خپل ژوند معمول وګڼله په دې کې بيا نورو حادثو زمونږ پام کله کله ځان ته ګرځاو خو ډېر زر به مو هغه هم هېر کړ او د يو نوې حادثې پورې به مو په دغه غميزه کې خپل ژوند تېروو. په دې غميزه کې مونږ د ژوند په حواله هېڅ کوم سوچ ته اوزګار نه شو په داسې حال کې چې ژوند کول د اوسپنو نښې چيچل دي د ژوند په هره مرحله داسې حاثادت مخې ته راځي چې زمونږ ژوند د تېر په خبر لا ګرانوي. د قېصـــــر اپريدي دا بيت زمونږ په ژوند کې د سوچ لپاره د وخت نه لرلو په حواله يو ۲مخ

احمد ولي خان اڅکزی

## د ژبو اعداد، د ژبو صحت کچ کول او د پښتو ژبې ډلبندي (۲) برخه

دا چې ايا د پښتو ياده درجه بندي په بشپړه توګه درسته ده که نه ژبې ته ورکول کېږي، په هکله يې بعضې ملاحظات وړاندې کېدلاى شي. يوه ملاحظه دا کېدلاى شي چې د پخوانيو وختونو په پرتله اوس په يوه ژبه د خبرو کولو تر څنګ په دغه ژبه د ليک لوست کوونکو شمېر لا ډېر مهم شوى دى. دا يو منل شوى اصـــل دى چې هغه ژبې چې د ليک لوست نظام نه لري يا وربانډې ليک او لوست نه کېږي، هغوى تر نورو ژبو ژر د له منځه تلو د ګواښ سره مخامخ کېږي. دا هم څرګنده ده چې د نړۍ تقريباً ۳۱۷۰ هغه ژبې چې دمګړى د له منځه تللو له ګواښ سره مخامخ دي، مطلق اکثريت يې د ليـــکلو نظامونه نه لري، نو که يوه ژبه لکه پښتو چې ده، د ليکلو نظام ولري، خو په نسلونو نسلونو ماشومان يې د ليک لوست له زدکړې بې برخې پاته شي نو ايا دا پخپله يوه ژبه د هغې ژبې مقام ته نه نږدې کوي چې له سره د ليک او لوست نظام نه لري؟

په نژداي توګه د پښتو تر ټولو زيات شمېر په هندوستان کې اټکل کېږي چې ويل کېږي تر ۳۳ مليونو زيات دي. خو د دغو پښتنو مطلق اکثريت برخې اول ليک لوست او بيا په وينا کې هم خپله ژبه له لاسه ورکړې ده. که د پښتون تعريف دا وي چې هغه په کور کې پښتو وايي، نو ايا دغو وګړو ته د پښتنو خطاب کېدلاى شي؟

د پښتنو دويمه لويه ډله د پښتونخوا په سيمو کې اوسيږي. له دغو پښتنو څخه په کوم شمېر په خپله مورنۍ ژبه ليک او لوست کولاى شي؟ هغه پښتو چې په لويو ښارونو لکه کراچي، پېښور او کوټه کې د پښتنو مېندو او پلرونو له خوا خپلو ماشومانو ته انتقالېږي، څرنګوالى يې څنګه دى؟ ايا دغه ماشومان په پوره پښتو خبرې کولاى شي که يې نيمه يا زياته برخه ژبه د نورو ژبو سره مخلوطه شوې او ونډه يې لا مخ په زياتېدونکې توګه په کمېدو ده؟

په افغانستان کې اوسېدونکو پښتنو وروسته د پښتنو څلورمه لويه ډله د نړۍ په بېلو هيوادونو کې خواره افغان مهاجر دي. دا هغه لوى شمېر انسانان دي چې د اوږد مهالو جګړو او ناامنيو تر څنګ په خپل هيواد کې د بې روزګارۍ له کبله هم له هيواد څخه مهاجر شوي دي. د دغې څلورمې ډلې ماشومان په کومه اندازه له خپل مور او پلار څخه خپله ژبه زده کوي؟ پکښې ليک او لوست يې کومه فيصدي کولاى شي؟ تر څو نسلونو پورې به دغه مهاجر لا په بهر کې خپله ژبه وساتلاى شي؟

**د (EGIDS) په درجه بندي کې ممکنه نيمګړتيا**

د (EGIDS) په درجه بندي کې تمرکز د نسلونو تر منځ د يوې ژبې د لېږد پر څرنګوالي دى. په دغه کې د ډيجيټلايزېشن فاکتور د درجه بندۍ فکټورنه دى. حال دا چې زما په فکر په (EGIDS) کې بايد دا فکټورنه هم ور اضافه کړل شي چې يوه ژبه په کومه اندازه ډيجيټلايزېشن ته داخله شوې ده. دا ځکه چې دغه موضوع په مستقيمه توګه پر دې اغېزه لري چې يوه ژبه څنګه له يو نسل څخه بل نسل ته انتقالېږي.

که څه چې پښتو ژبې د ډيجيټلايزېشن پر درشل پښه ايښې ده، خو وضعيت يې خوندي لا نشي ـ بلل کېدلاى. د ډيجيټلايزېشن په نړۍ کې صرف موجوديت کفايت نه کوي بلکې د موجوديت کيفيت او د نورو ژبو سره د هسکو مقامونو لپاره د سيالۍ توان او امکانات هم مهم دي. تر اوسه چې د پښتو د ډيجيټلايزېشن په برخه کې کومې هڅې شوي دي، لويه برخه يې د پښتون مېشتو سيمو او هيوادونو د حکومتونو او دولتونو لخوا نه دي. بلکّې دغه هڅې د نړيوالو شرکتونو لخوا پر يو اړخ او د ګوتو په شمېر څو ايډياليست اشخاصو لخوا په بل اړخ تر سره شوي او ادامه لري. خو په کوم شمېر چې اوس د پښتو ويونکو شمېر دى، په ډيجيټلايزېشن کې يې پرمختګ په هغه تناسب نه دى او د ډيجيټلايزېشن اوسنى څرنګوالى يې د ډاډ او اطمنان وړ نه دى.

اشخاص او ټولنې بايد د حکومتونو خلا ډکه کړي په علمي حلقو کې دا يو منل شوى اصل دى ۲مخ

پوهنيار سراج احمد حبيبي

## د عبدالقادر خټک د ديوان د ځينو تصوفي او عرفاني اصطلاحاتو شننه (۲) برخه

**کشف او ولي:** کشف د لغت له مخې د پردې لرې کولو ته وايي او د صوفيانو په اصطلاح له غيبي امورو څخه د حجابونو لرې کولو او له حجاب نه د ها خوا شهودي او وجودي اطلاع حاصلولو ته ويل کېږي.(هيله من، ۱۳۸٦، ۲۱۸) د دې عرفاني نومونې په اړه د عبدالقادر خان خټک په لاندې بيت کې لولو:

چې رانجه کا د صديق د قدم خاورې
هاله کشف عطا شي د هر ولي ( خټک، ۱۳۸۵، ۲۵۴)

په همدې بيت کې (ولي) بله يوه داسې عرفاني او تصوفي اصطلاح ده، چې د عبدالقادر خان خټک همدې بيت ته يې عرفاني او تصوفي رنګ ورکړى دى. (ولي) د عرفاني اصطلاحاتو په قاموسونو کې هغه شخص ته ويل کېږي چې پر حق تعالى تولى وکړي، د هغه ټول امرونه پر ځاى کړي او حق تعالى هم هغه له هر ډول ګناه څخه وژغوري.( هيله من، ۱۳۸٦، ۲۵۵) د (ولي) عرفاني او تصوفي اصطلاح په اړه د عبدالقادر خان خټک په دې لاندې بل بيت کې هم لولو:

هغه مرد ولي ګڼه عبدالقادره!
چې عمل يې په سنت او په کتاب وي(خټک، ۱۳۸۵، ۲۵٦)

**بيت الله او بيت الحرام:** بيت الله او بيت الحرام په عرفان او تصوف کې د يقين لرونکي عارف زړه ته ويل کېږي. ( ناګار، ۱۳۸۸، ۵۱) د دې عرفاني نومونې ذکر د عبدالقادر خان خټک په لاندې بيت کې په همدغه مفهوم سره داسې شوى دى:

بيت الله په حقيقت د مومن زړه دى
چې بې خدايه مينه کا پکښې صنم ږدي (خټک، ۱۳۸۵، ۱۴۸)

**قُرب او بُعد:** د اسلامي تصوف او عرفان په ځينو قاموسونو کې قُرب پر هغې ژمنه درېدلو ته ويل کېږي، چې په ازل کې د خداى تعالى او بنده ترمنځ شوې ده. (کاشاني، ۱۳۹۱، ۱۱۱) او بُعد بيا له خداى تعالى څخه لرې کېدلو ته ويل کېږي. خو د عبدالقادرخټک په لاندې بيت کې د قُرب اصطلاح په دې معنا نه، بلکې د معشوق د وصال او يو ځاى والي په معنا باندې راغلې ده:

قرب او بعد، وصل، هجر ورته يو شي
چې يې بيا مونده مکان په لامکان زړه (خټک، ۲۰۰۲، ۱۲۴)

دلته ويل شوي دي، چې څوک په لامکان زړه سره مکان پيدا کړي، د هغه لپاره د خپل معشوق او محبوب قرب او بعد، هجر او وصال توپير نه کوي، ځکه د ده هغه محبوب او معشوق هر وخت او په هر ډول شرايطو کې له ده سره يو ځاى وي، پر همدې خاطر يې وروسته له دې نه د دې لپاره ژړا کول او فرياد کول چې دا د قرب نعمت بېرته رانه وانه خيستل شي، هم سبب د بعد ګرځي چې دغې موضوع ته هم عبدالقادر خان خټک په خپله دې لاندې څلوريزه کې په ډېرو ښکلو الفاظو سره اشاره کړې ده:

که ډېر څه درکا وربانډې مه وياړه
له خدايه نور څه بې خدايه مه غواړه
ژړا دې قرب ژاړه دې بعد ده
و خداى ته ژاړه له خدايه مه ژاړه (خټک، ۲۰۰۲، ۲۷۷)

د معشوق سره د عاشق د قرب او نږدېوالى يو بل شرط دا دى، چې د معشوق په وصال کې چې عاشق هر څه ويني بايد نورو ته يې ونه وايي، ځکه دا د ده او د ده د محبوب ترمنځ يو راز دى او که چېرې وغواړي چې دا راز فاش کړي، د منصور حلاج غوندې به د دار سره مخامخ شي. په همدې پار د عبدالقادر خان خټک دا لاندې خبره بايد د تل لپاره په غوږ ونيسي:

هر چې لاف د عشق کا بيا له عشقه ګفتګوى کا
تشې دعوې کاندي په سالوس يې جامه رنګه
ګفت په شريعت دى سکوت په حقيقت دى
کله ويل کاندي مقرب د شاه له څنګه(خټک، ۲۰۰۲، ۳۲۹)

**عشق:** د عادت خلاف ډېره او شديده مينه، چې په هغې کې يو څوک د خپلې رضاء په پرتله د محبوب رضاء ته ترجيح ورکوي.(هيله من، ۱۳۸٦، ۱۹۰) د عشق په اړه د عبدالقادر خان خټک په شعرونو کې لولو:

که له عشقه شې سنګساره عبدالقادره!
د منصور غوندې په دار عبدالقادره!
په نارو سوزې په نار عبدالقادره!
مه کړه بې عشقه بل کار عبدالقادره!
د عشق چار په لاس کې ونيسه محکمه (خټک، ۲۰۰۲، ۳۱۹)

عشق په تصوف او عرفان کې همدومره ضرور دى، څومره يې چې عبدالقادر خان خټک د لاسته راوړلو ۳مخ

پوهندوى دوکتور سيد اصغر هاشمي

## په څېړنه کې د مأخذ ښودنې په اړه لارښوونې (۲) برخه

**بې مأخذه ليکنې ته څېړنه ويلاى شو او کنه؟:** د پښتو ژبې څېړنې په ابتدايي حالت کې دي. په نړيوال کچه ټولنيزې پوهنې لوړ څېړنيز مقام لري، هلته که څېړنيزه ليکنه مأخذ ونه لري، د څېړنې تر سرليک لاندې نه راځي، نو له همدې امله که يوه ليکنه څومره ښه وي، خو له مأخذ ونو په کې ګټه اخيستل شوې نه وي، د څېړنې تر عنوان لاندې راتلاى نه شي. د څېړنې يوه اساسي خبره د مأخذ ونو په کې ګټه اخيستل ، په خپل خپل ځاى ښودل او د مأخذ ونو ارزيابي ده.لنډه دا چې بې مأخذ ه کتاب، رساله، مونوګراف، تيزس، مقاله او داسې نور څېړنيز جوړښتونه د څېړنې تر سرليک لاندې راتلاى نه شي.ځينې ليکوال خورا ښې مقالې ليکي، خو مأخذونه نه لري، چې د څېړنې د بنسټونو په نظر کې نيولو سره دې ډول ليکنو ته غير رسمي ليکنې ويلاى شو، خو علمي او اکاډميکې ليکنې ورته ويلاى نه شو.

**د عمر او پوهې په لحاظ د کم عمره څېړونکي له مأخذه ګټه اخيستلاى شو او کنه؟:** که د څېړونکي عمر کم وي او يا د څېړنې تجربه يې کمه وي، خو د تحقيقاتي کارونو سره يې مينه او رغبت وي او د عمر او پوهې په لحاظ پياوړى څېړونکى يې له اثارو ګټه واخلي کوم عيب نه دى، عيب هغه غرور دى، چې د ځوان څېړونکي له کتابه ځکه ګټه نه اخلي، چې دى يو وخت شاګرد وه او يا د عمر په لحاظ کوچنى دى.

د نړۍ ټول شيان په تکامل کې دي، انسان هم په بېلابېلو وختونو کې ظاهري او باطني رغبنت په نظر کې نيولو سره تغيير کوي، نو د نن ورځې ځوان او نوى څېړونکى به يو وخت پياوړى محقق وي، په نړۍ کې لويو پوهانو او په ځانګړې ډول څېړونکيو دماشومتوب دوره تېره کړې ده، خو نن پياوړي او مشران څېړونکي دي.

يوه ورځ په مجلس کې د څو دوستانو سره مخامخ شوم، د پېژندنې وروسته يو ځوان راته نږدې شو، ويې ويل: زه (فلانى) يم، تا په خپل(فلاني) اثر کې زما له مونوګرافه د مأخذ په ډول ګټه اخيستې ده. دا زما لپاره افتخار وه چې د ځوان څېړونکي له مأخذ ه مې استفاده کړې وه او ځوان ليکوال ته يوه روحيه وه چې راتلونکي کارونه وکړي.

د ځوانو ليکوالو د اثارو ګټه اخيستنه د دوى د هڅونې لامل کېږي او په راتلونکي کې ورسره دا هيله پيدا کېږي چې زه هم يو څوک يم او ګانده کې خپل کار ته دوام ورکولاى شي.يوه ورځ مې واورېد چې د يوې ليکنې لارښود څېړونکي ته ويلي وه، چې د(فلاني) له اثارو د مأخذ په ډول ګټه به نه اخلې. په علم کې شخصي اغراض، تنظيمي، قومي، مذهبي او ژبني اختلافات او داسې نور لسګونه خبرې ځاى نه لري.

**د مأخذونو ډېروالى ليکنې ته قوت ورکولاى شي او کنه؟:**که چېرې په يوې ليکنې کې له ډېرو کره او اول لاس مأخذ ونو ګټه اخيستل شوې وي او په مقابل کې بل څېړونکي له کمو مأخذ ونو ګټه اخېستې وي، د دواړو علمي او اکاډميک کار د څېړنې د لارو چارو پر اساس يو شان مخکې تللى وي، نو دلته هغه څېړنه کاميابه ده چې له ډېرو مأخذونو استفاده شوې وي، ځکه چې له ډېرو مأخذ ونو استفاده د دې لامل کېږي، چې ډېرکتابونه ولولي او په انتقادي نظر ورته وګوري. په يوې موضوع د ډېرو پوهانو له نظرياتو او افکارو سره مخامخېږي او همدارنګه د هر څېړونکي له نظر سره خپل نظر او فکر يو ځاى کوي، خو که مأخذ ونه ډېر وي او ټول نظريات را ټول شوي وي، خپل نظر او فکر پکې نه وي، خو په مقابل کې بل څېړونکي له کمو مأخذ ونو ګټه اخيستې وي او ليکنه يې د څېړنې د لارو چارو پر اساساتو برابره وي، نو دلته بيا د مأخذ ونو کميت مهم نه دى، بلکې د څېړنې کيفيت مهم دى. په څېړنه کې ډېر مأخذ ونه په هغه وخت کې ليکنې ته قوت ورکوي، چې څېړنه له پيله تر پايه د څېړنې مېتودولوژي په نظر کې نيولو پيل او پاى ته رسېدلې وي او که داسې نه وي، نو بيا د ډېرو مأخذ ونو راوړل څېړنې ته قوت ورکولاى نه شي.

**د مأخذونو ښودل او که نه ښودل کسر شان دى؟:** د څېړنې لپاره مأخذ ښودنه مهمه ده. مأخذ ليکنې ته قوت ورکوي او د جعل کارې مخه نيسي. ليکنې کې ادبي غلا ښکاره کوي او داسې نورې ښېګڼې لري.

د نړۍ لويو پوهانو د نورو پوهانو له اثارو د مأخذ په ډول ګټه اخيستې ده. ټولو اسلامي څېړنو ته قران کريم او ۲مخ

لیکوال: جېم ران ژباړن: څېړندوی اتل انگار

# شخصي مسئولیت

ځان مه غولوه. لازمه نه ده چې د کوڅې د غله په فکر کې شې؛ د خپل ذهن د غله لپاره دې حواس راټول کړه. ستا د راتلونکې غوره برخه له پېښو څخه نه جوړېږي. ټولو کسانو ته یو شان پېښې لوېږي، د دغو پېښو په وړاندې ستا اقدام اړین دی.

دا په نظر کې مه نیسه، چې ستا د کار پایله به څنگه وي، د خپل کار ټول مسئولیت دې خپله په غاړه واخله. د لوړ انساني کمال یوه بنه داده، چې د خپل ژوند ټول مسئولیت په غاړه واخلو.

وایي: ((د هیواد اوضاع خرابه ده.)) په دې خبره دې په خاورې، غلې، لمر او باران، یعنې په خپلې ټولې شتمنۍ نفرین وواېه. په خپلو شتمنیو نفرین مه وایه. هر وخت دې چې خپله کوم ستوری جوړ کړ، هغه وخت یې په خپله خوښه ډیزاین کړه. په دې ستوري کې اوضاع همداسې ده.

له ۹۷ % خلکو څخه لرې اوسه او د هغوی له بهانو سره ځان مه تړه. د خپل ژوند مسئولیت په خپله غاړه واخله. ورم (پند) ومنه خو امر نه. یوازې په ځان امر وکړه. یو پوه وایي: ((کله چې زه نه غواړم د چا غلام شم، د چا رئیس هم نه کېږم.))

باید د خپل ژوند مسئولیت خپله په خپله غاړه واخلې. ته نه شې کولای چې شرایط، موسمونه او د باد لوري ته بدلون ورکړې، مگر خپل ځان ته دې؛ څکه د دغه یوه (ځان) مسئولیت ستا په خپله غاړه دی. ته د یوه لښکر خلکو مسئول نه یې، خو قطعاً د دې مسئول یې چې مطالعه وکړې که نه؛ ایا نوي مهارتونه موندی شې که نه او که ایا په نوي ټولگي کې گډون کوې که نه.

ستا د حقوقي چیک رقم ستا آمر نه ټاکي؛ ته یې په خپله ټاکې. دا ته یې چې د خپل کار ارزښت ټاکې نه ستا آمر. هر څومره فکر مې چې وکړ، ومې لیدل چې له زاریو او بهانو راوړلو څخه بداینه ډېره اسانه ده.

یوازې تر کوم ځایه چې غواړې، وده کولای شې؛ یوازې تر کومه ځایه چې ولټوې تللی شې؛ یوازې د خپل دید د ژوروالي په کچه لیدلی شې؛ او یوازې تر کومه ځایه چې خوبونه څغلولی شې، کولای شې، چې شې.

- - - - - - - - - - - - - - - -

# حادثاتي بدلون، د پښتنو...

نمایینده بیت دی؛ قېصر اپریدی وایي چې:

سوچ را سره و خو د سوچ کولو وخت چېرته و
څه حادثه هم پېښه شوې ناڅاپي ډېره وه(۱)

سوچ د انساني پوهې لومړۍ مرحله ده د سوچ نه وړاندې خیال د انسان په ذهن کې راځي خو سوچ هر خیال ته په منظم شکل ورکولو کې غیر معمولي کردار ادا کوي. په کوم خیال چې سوچ و نه کړی شي هغه یوازې د جذبې په صورت کې ځان ښکاره کوي څکه مونږ په لومړیو کرښو کې لیکلي وو چې حوادثو ته د انسان غبرگون جذباتي وي.اوس چې مونږ د قېصر اپریدي دې شعر ته ځېر شو او بیا د افغانستان د غمیزې حادثه په خپل نظر کې وساتو نو هم به معلومه شي چې زمونږ په ژوند کې د سوچ لپاره وخت ایستل څومره گران دي. د قېصر اپریدي شعر مونږ یوازې دې حادثې ته نه را لنډوو خو دومره ضرور وایو چې دغه حادثه چې د استعماري قوتونو له خوا د ډېر سوچ او فکر نه پس زمونږ په خاوره کېدله نو زمونږ لپاره بېخي ناڅاپي وه. څکه چې مونږ له وړاندې نه د دغه جنگ لپاره کوم سوچ کړی نه و. که چېرې مونږ له وړاندې دغه هر څه ته تیاری نیولی وای نو دغه جنگ به زمونږ په ژوند کې د حادثې ځای نیولی نه و. جنگونه گټه نه کوي خو کوم جنگونه چې په پوره تیارۍ سره وشي څه نه څه گټه ضرور کوي. د دغه جنگ په دوران کې نړۍ د ادب، سیاسي نظریاتو، معاشي نظام او ساینسي تگ او پرمختگ کې ډېره وړاندې روانه وه. د مغرب دانشورانو د نړیوال کلي په نوم یوه داسې مغالطه د دریمې نړۍ په خلکو کې خوره کړه چې تا به ویل دنیا به د یو کلي شکل غوره کړي خو دا په اصل کې دوي د جهانیت، نړیوالتوب (گلوبلیزم) لپاره ذهنونه تیارول او د هغې سره سره یې د ساینس له لارې د دنیا ډېره برخه یوه له بلې سره هم وتړله. که چېرې دنیا رښتیا د کلي شکل غوره کړی وي نو پکار دا دي چې د دې کلي څه اقدار، نظریات او عقاید شریک وی یا د سرمایې په مد کې د ټول کلي برخه وي خو چې داسې نه ده نو نړیوال کلی (گلوبلیزم) د استعمار یو دروغژنه بیانیه ده او په دې د دریمې نړۍ د خلکو استحصال دوام لري. دنیا چې کله د یو بل سره نزدې کېدله نو مونږ د هغې غمیزې په اغیز کې وو کومه چې د نولسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې پېښه شوې وه یعنې مونږ نړیوال کلي ته هم په حادثاتي توگه ور داخل شو او هلته زمونږ اجنبیت د دنیا لپاره حېرانوونکی و. مونږ وخت نه لرلو چې په دې اړه څه سوچ وکړو او دنیا مخ په وړاندې روانه وه چې نن یې د مصنوعي ذهانت په شکل کې یو داسې څیز تیار کړ چې دا هم زمونږ په ژوند کې د یوې حادثې نه کم دی. اگر چه د نورې دنیا لپاره دا یوازې تعجب او حېراني ده. مصنوعي ذهانت د دریمې نړۍ د خلکو لپاره یقینا چې یوه حادثه ده. څکه چې د دریمې نړۍ خلک د ژوند د هر اسایش نه محروم دي خو د نورې نړۍ په نسبت د پښتنو لپاره دا حادثه په بدل شکل کې ښکاري څکه چې پښتانه د دریمې نړۍ دریم مخلوق دی. د دوي ژوند لا د هغې ناڅاپي حادثې له اغیز څخه نه دی وتلی د کومې له امله چې دوي په نړۍ کې د مرگ او ژوند په برید ولاړ دي. د مرگ او ژوند په برید ولاړ خلک یوازې د خپلې بقاء سوچ لرلای شي خو بدبختانه پښتانه د خپلې بقاء شعور هم په هغه توگه نه لري د کوم چې سخت ضرورت دی.اوس چې په دنیا کې کوم بدلون هم مخې ته راځي هغه زمونږ په ژوند کې د یوې حادثې نه په هېڅ صورت کم نه وي یعنې د نړۍ هربدلون زمونږ لپاره حادثاتي بدلون وي او هر بدلون ته به زمونږ رد عمل د شعوري په ځای جذباتي وي. د قېصر اپریدي غوندې باشعور تخلیق کار د داسې صورتحال ادراک هم لري او پر وخت د هغه صورتحال نه خپل قام هم خبروي. د یو ساهو او مترقي تخلیق کار دغه زمه داري وي کومه چې قېصر اپریدي د ذکر شوي بیت په شکل کې پوره کړې ده. که مونږ هر څومره د سوچ لپاره وخت نه لرو خو په دې هر څه د سوچ کولو ضرورت له پرون څخه نن زیات شوی او په مذکوره شعر کې هم د سوچ لپاره وخت نه لرل د خوښۍ نښې نه لري بلکې دا مونږ د قېصر اپریدي د ذهن هغه صورتحال پورې متصور کولای شي په کوم کې چې انسان د څه خبرې ارمان یا په تېر عمل افسوس کوي. د شعر په لومړۍ نیم بیتۍ کې که دغه ارمان او افسوس د لفظونو په جامو کې هر څو پټ دی خو د نیم بیتۍ په تفهیم کې لوستونکي ته ځان ښکاره کوي او هم دغه افسوس او ارمان د شعر په معنوي فهم کې ډېر ښه کردار ادا کوي. د خپل فکري او هنري جوړښت په وجه ذکر شوی بیت هغه مقام ته ځان رسوي کوم چې د یو اعلیٰ تخلیقي بیت حق دی.

**مأخذونه**

۱ ـ اپریدی، قېصر.اووه خوبونه، (شعري ټولگه)، ناچاپ.

- - - - - - - - - - - -

# پښتو ادب او ختیځ...

کړی دی. د دوی په خامیو باندې ځینو پوهانو وروسته کره کتنه کړې ده او د دوی د تېروتنو د سمولو او بشپړولو هڅې یې کړې دي، لکه څرنگه چې ارواښاد دوست محمد کامل په خپل کتاب (On a Foreign Approach to Khushal) کې د خوشحال خټک په اړه د ختیځپوهانو تېروتنې رابرسېره کړې دي. په دې ډول ډېرو پښتنو پوهانو په بېلابېلو وختونو کې د موضوع اړوند بحثونه او تبصرې کړې دي.

دغو ختیځپوهانو په ځینو موضوعاتو د جذبې له مخې او په ځینو معیاري کار کړی دی، خو له دې حقیقیته هېڅوک سترگې پټولای نه شي، چې د هند د نیمې وچې له ټولو سترو ژبو سره په پښتو ژبه او ادب کې هم څېړنې او د علمي فکري لارې بنسټ ختیځپوهانو ایښی دی. د څو اوځارو ختیځپوهانو لنډه پېژندنه اړینه گڼم، دا پېژندنې د پروفیسور محمد نواز طایر له کتاب (روهي ادب) او ځینو نورو مأخذونو څخه دلته وړاندې کوم.

**۱) میجر راورټي (Major H.G. Roverty)**

راورټي په ختیځپوهانو کې نامتو او اوځار نوم لري. نوموړي د پښتو ادب په بېلابېلو برخو کې ارزښتناک او بنسټیز کارونه ترسره کړي دي. دی له آره په انگرېزي پوځ کې و او هلته یې له تورنۍ (کپتان) تر جگړنۍ (میجر) او وروسته تر ډگروالۍ (کرنیل) رتبو پورې دندې ترسره کړې دي. د خپلې پوځي دندې پر مهال د هندوستان په بېلابېلو سیمو کې ټاکل شوی دی. په کلکته، جالندر، آگره او ممبۍ کې یې له پوځي ماموریت وروسته په پېښور کې هم خپل پوځي مسئولیت اداء کړی دی. په پېښور کې یې پر پښتو ژبه او ادب هم کار کړی دی.

راورټي لومړی ختیځپوه دی چې تر ټولو لومړی یې نه یوازې پښتو ـ انگرېزي سیند (قاموس) ترتیب کړی دی، بلکې د دې ژبې د گرامر او د ادب اړوند یې هم ډېر ارزښتناک آثار لیکلي دي. خیال بخاري لیکي چې میجر راورټي په پښتو کې د کندهارۍ او یوسفزۍ لهجې په توپیر په اسانۍ پوهېږي. دا په دې وجه: په هغو خلکو کې چې له ده سره یې په علمي هڅو کې مرسته کړې ده، په هغو کې یو تن د اشنغر اخوندزاده و او دویم کس د کندهار د یوه قاضي زوی و. میجر راورټي په خپله د دغو دواړو یادونه کړې ده چې ژباړه یې دا ده:

**یادونه: پاتې برخه په راتلونکې گڼه کې خپرېږي.**

# د ژبو اعداد د ژبو د صحت کچ...

چې د ژبې له لاسه ورکول د یو ځانگړي فرهنگ او ورسره تړلې یو ځانگړې د نړۍ لید له لاسه ورکول دي. اکثریت پښتانه هم په دې باور دي چې د خپلې ژبې له لاسه ورکول به د دوی لپاره د خپل هویت او تاریخ د له لاسه ورکولو په معنی وي. د نړۍ په تاریخ کې جغرافیې تغییرې شوي او تبدیلې شوي دي، هېوادونه جوړ شوي، وېشل شوي او له سره منحل شوي دي.خو داسې ولسونه هم شته او تېر شوي چې د هر ډول لویو تغییراتو او حالاتو باوجود د ژبې په تړون سره تړلي پاته شوي دي.ځینو یې پر دغه اساس خپل ځان ته په نړۍ کې ښکاره مقام ترلاسه کړی، لکه سره پر بېلو سیمو او ډلو ووېشل شوو د آلماني ژبه ویونکو وگړو چې په خپل اتحاد سره د متحد لوی آلمان بنیاد ایښی و.

دا چې د پښتو ژبې ویونکي هم پر بېلو جغرافیایي، سیاسي، قبیلوي او نورو ډلو سره وېشلي دي،نو د پښتو ژبې لپاره په ډېر مهم پېر ډیجیټلایزېشن کې د غیردولتي اشخاصو او ډلو کردار او عمل ډېر مهم دی. د ټولو جغرافیایي، سیاسي، قبیلوي او لهجوي توپیرونو هاخوا د پښتو ویونکو د یو منسجم علمي، اکاډمیک او د پښتو ډیجیټلایزېش ته کار او پښتو ژبې ته لابي کوونکي تحریک جوړول په کار دي. کومه خلا چې د دولتونو او حکومتونو د ملاتړ له نشته والي څخه رامنځته شوې ده، هغه باید اشخاص او تحریکونه ډکه کړي.

د پښتون ولس د ژوند لپاره د پښتو ژبې ژوندي پاته کېدل حتمي دي او په سرلوړۍ سره د پښتو ژبې د ژوندۍ پاته کېدو لپاره بیا په ډیجیټلایزېشن کې پر وخت او په کافي اندازه او سرعت و هلو ځلو ته اړتیا شته.

**مأخذونه**

1. “Source of image: Ethnologue.” X, 17 Feb. 2022,https://x.com/theEthnologue/status/1498327328811802630/photo/1.

2. “Pashto.” UNESCO Silk Road, UNESCO, https://en.unesco.org/silkroad/silk-road-themes/languages-and-endanger-languages/pashto.

3. Fishman, Joshua A. Reversing Language Shift: Theoretical and Empirical Foundations of Assistance to Threatened Languages. 1st ed., Multilingual Matters, 1991.

4. Lewis, M. Paul, Gary F. Simons, and Charles D. Fennig, editors. Ethnologue: Languages of the World. 19th ed., SIL International,2016.https://www.ethnologue.com.

5. Simons, Gary F., and Charles D. Fennig. “Assessing Endangerment: Expanding Fishman’s GIDS.” SIL International, 2010, https://www.sil.org/resources/publications/entry/9139.

6. Spolsky, Bernard. Sustaining Language Use: Perspectives on Community-Based Language Development. 1st ed., Cambridge University Press, 2021.

7. Fishman, Joshua A., editor. Can Threatened Languages Be Saved? Reversing Language Shift Revisited: A 21st Century Perspective. Multilingual Matters: 116, Multilingual Matters, 2001.

# په څېړنه کې د مأخذ...

نبوي احایث د اول لاس مأخذ ونو په ډول د گټې اخیستې وړ وو. په لیکنه کې د مأخذ ونو ښودنه د څېړونکي لپاره عار نه دی، خو دا ورته کسر شان دی، چې د څېړونکي له اثره گټه اخیستل شوې وي، خو ښودل شوې نه وي. دا د لیکوال معنوي ملکیت او دارایي ده، چې بل لیکوال یې باید غلا نه کړي، خو دا حق ورنه اصل لیکوال نه شي اخیستلای، چې له کتابه یې گټه اخیستل شوې وي او ځای پرځای ښودل شوې وي، خو بیا هم څېړونکی په قهر وي، چې ولې یې له مأخذه استفاده شوې ده.کله کله داسې هم کېږي چې څېړونکي کتاب لیدلی نه وي. د بل کتاب نه مأخذونه ښیي، چې دا هم یوه ستونزه ده او په ځینو ځایونو کې زه ورسره مخامخېږم. څه موده مخکې یو څېړونکي سره مخامخ شوم، ده د تاریخ مرجع له مأخذ ه گټه اخیستې وه، ما ورته وویل چې تاریخ مرجع به څو مخه وي، ده په زغرده وویل: سل مخه کتاب دی.

**په مأخذ ښودنه کې له صداقته کار اخلو او کنه؟**

څېړونکی باید په څېړنه کې له صداقته کار واخلي او د مأخذ ښودنې په برخه کې یوه کرښه هم ځای پر ځای وښیي. دا د اصل لیکوال حق دی او څېړونکی باید دا کار وکړي، بیا هم د دې خبرې یادونه اړینه ده، چې ټولې غیر علمي خبرې باید پرېښودل شي، بلکې د څېړنې د اصولو پر اساس دې مأخذ ونه وښودل شي.

**په مأخذ ښودلو کې له امانت دارۍ کار اخلو او کنه؟**

د مأخذونو ځای ځای ښودل، مأخذ ښودنه کسر شان نه گڼل، د ځوانو لیکوالو له مأخذ ونو استفاده کول، د هر لیکوال نظر ته احترام درلودل او داسې نور مسایل په امانت دارۍ کې راځي. په لیکنه کې یوه کرښه هم بې مأخذ ه راوړلای نه شو. د کتاب یوه برخه او یا ټول کتاب د څېړونکي مال دی، د دې مال مالک یې لیکوال دی.

**په متن کې د مأخذ ونو نه ښودنې ستونزې**

کله کله د ځینو داسې اثارو سره مخامخېږم، چې د مأخذونو یو لوی فهرست یې په پای کې راوړی وي، خو په متن کې یې یادونه نه وي شوې، دلته یوه لویه ستونزه همدا ده چې داسې لیکوال د څېړنې د لارو چارو سره سم اشنا نه دي، نو څکه په متن کې مأخذونه نه ښیي. په متن کې د مأخذ ونو ښودنه حتمي ده، که په متن کې مأخذ ونه ونه ښودل شي او د کتاب په پای کې راغلې وي، دا د مأخذ ښودنې په برخه کې لویه ستونزه ده او داسې لیکنې د څېړنې تر سرلیک لاندې راتلای نه شي. په یو مخ کتاب کې د پنځو بېلابېلو مأخذ ونو او نظریاتو گټه اخیستل ای شو او همدارنگه د دې یو مخ د پنځو مأخذ ونو د فکرونو منل او نه منل د اصل څېړونکي دنده ده او همدارنگه خپل نظر راوړل هم یوه اساسي مساله ده.که چېرې په متن کې مأخذ ونه نه وي، نو څنگه کولای شو، چې پوه شو، د کتاب اصل متن د کوم لیکوال دی، په کتاب کې بېلابېل نظریات د چا دي. ایا د کتاب په پای کې چې کوم مأخذونه راغلي دي، په اصل متن کې څومره صدق کوي، نو په متن کې د منابعو ښودنه مهمه ده.(٦)

**له یو اثره څو ځله د مأخذ په ډول گټه اخیستلای شو؟**

زما د مطالعې له مخې تر اوسه پورې په پښتو، فارسي او اردو ژبو څېړنیزو اثارو کې د دې خبرې یادونه زما تر سترگو شوې نه ده، چې د یو اثره په څېړنه کې څو ځله گټه اخیستل ای شو، خو د یوې خبرې یادونه اړینه ده، چې د یو کتاب ډېره برخه اخیستل سم کار نه دی. که د یو مأخذ ه ډېره گټه واخیستل شي، نو حتمي به اثر د لیکوال نظریات په تکراري ډول په لیکنه کې راوړي، دا چې دا نظریات په حاضر اثر کې شته، په تکراري ډول راوړل به یې سم عمل نه وي، که په علمي مهارت او قوت له یو اثره څو ځله گټه واخیستل شي او همدارنگه د لیکوال نظریات پکې وي او د اقتباس د لارو چارو سره څېړونکی اشنا وي، نو په داسې مواردو کې امکان لري، خو بیا هم د تأمل وړ خبره ده.

**مأخذ ښودلو کې کوم ډول سبکه سم دی؟**

مأخذ د اخېستنې ځای ته وایي. هر څېړونکی د خپل ذوق او د وخت د دود په نظر کې نیولو سره مأخذ ونه په متن او پای کې ښیي، چې دا ټول سم دي او یو ته سم بل ته ناسم ویل به سمه خبره نه وي.

د لوړو زده کړو وزارت د افغانستان پوهنتوني علمي رتبو لپاره یو ډول مأخذ ښودنه(ای پی ای) سیستم په متن او پای کې لاربښوونه کوي، چې باید عملي شي، خو نورو سبکونو ته هم ناسم ویلای نه شو.

**د مأخذ ښودنې په برخه کې د اصل څېړونکي اجازه مهمه ده او کنه؟**

مأخذ ښودنه د څېرونکي حق دی. دی کولای شي چې اول لاس(بنیادي) مأخذ ونه معلوم او ترې گټه واخلي او یا د انلاین دایرت المعارفونو (انسایکلوپېډیاوو) نه استفاده وکړي. په دې صورت کې د څېړونکي حق دی چې د کوم اثره گټه اخلي، خو د مأخذ ونو ارزیابي او هر مأخذ ته په انتقادي نظر کتل چې کار یې ناسم نه وي، د څېړونکي دنده ده.څېړونکی چې د کومو څېړونکیو له اثارو گټه اخلي، هغوی هم د نورو لیکوالو له څېړنیزو اثارو استفاده کړې ده، نه هغو ته د اجازه اخیستل و کومه خبره شته او نه دویم څېړونکي ته.په ځینو وروسته پاتې هېوادونو کې داسې هم کېږي، چې د څېرونکي له اثره گټه اخیستل شوې وي، خو دی پرې خفه وي، خو ده به خپله د یو درجن نورو مأخذ ونو استفاده کړې وي. که چېرې د څېړونکي له اثره په دقیق او کره ډول استفاده شوې نه وي، نو دی حق لري، چې خفه شي او یا د دویم څېړونکي سره په دې ستونزې خبرې وکړي.

**پایله**

مأخذ ونه په څېړنه کې د اخېستنې ځای معلوموي او محقق کولای شي چې د ځینو پوهانو نظریات تائید او د ځینو رد کړي، خو په دلایلو سره. مأخذونه څېړنې ته قوت ورکوي او موثقتوب یې ثابتوي. بې مأخذ ه څېړنه د تحقیق په کتار کې نه شي راتلای. د مأخذ ښودنې سبکونه او ډولونه بېلابېل دي، یو ته سم او بل ته ناسم ویل سم کار نه دی. مأخذ د اخیستنې ځای دی او دا چې د اخیستنې ځای په کوم ډول وښیو کوم باک یې نشته.

**مأخذونه**

۱ ـ عباسي، عبدالحمید خان. اصول تحقیق (دویم چاپ)، نیشنل بک فاونډېشن: اسلام اباد، ۲۰۱۵ م کال، ۱۷۵ مخ.

۲ ـ څېړنوال محمد نبي صلاحي، په ادبي څېړنه کې د میتود ارزښت، د ادبي څېړنې اصول او لارې، سرمحقق سید محی الدین هاشمي په اهتمام، ژبو او ادبیاتو مرکز ـ علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۹۳ ل کال، ۴۰ـ ۴۱ مخونه.

۳ ـ پورتنی مأخذ. ۴۰ مخ.

۴ ـ هاشمي، سیداصغر، د تحقیق اصول، هاشمي خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۵٦ مخ.

۵ ـ همت، عبدالمالک. د مقالې لیکلو اصول او د مطالعې او څېړنې لاربښود، دویم چاپ، صحاف نشراتي موسسه: کوټه، ۱۳۸۸ ل کال، ۷۴ـ ۷۵ مخونه.

٦ ـ پورتنی مأخذ. ۷۳ مخ.

پوهندوی ګل رحمن رحماني

## شمس او مولانا په پښتو شعر کې (۳) برخه

ښايي له پورتنيو بيتونو دويم بيت خپله د مولانا دې لاندې بيت کټ مټ تاثر وي چې وايي:

دی شيخ با چراغ همی گشت گردی شب
کز دیو و دده ملولم و انسانم آرزوست

استاد مصطفی سالک بل هغه شاعـــــــر دی چې کره کتونکي او شعر پوه استاد اسدالله غضنفر ورته د سپېڅلو رازونو شاعر نوم ورکړی او لامــــــل يې د هغه ځوانې تصوفي تجربې، مطالعات او تمايلات دي او په ټوله شاعرۍ کې يې د عرفان، تصوف او فلسفې يو داسې ګډ يو ځايښت وينو چې د اوچت شاعرانه هنر په ګاڼه سمبال شوی او هغوی چې د تصوف له ژبې او دنيا سره بلد دي، په اسانۍ يې درک کولـــــى شي، خو څوک چې له دې ژبې سره ډېره اشنايي نه لري، هر څه په لومړۍ معنا تحليلوي. په شعر کې يې د شمس او مولانا د ژوند ګڼې يادونې په کې په څرګند او نا څرګند ډول راغلې دي، خو زما لپاره يې دا بيت د ډېرې يادونې وړ دی، چې وايي:

بيا دې د شمس سترګو کې څه ليدلي
د مولانا غوندې خبرې کوې

خپله زه ( ليکوال) د مولانا او شمس د ژوند او سلوک له کيسې سره لومړی ځل د دري ژبې څېړونکي پرتو نادري د (مولانا از بلخ تا قونيه) اثر له مطالعې سره په ښه ډول اشنا شوم، خو دويم کتاب چې ماته يې دغه محبوبان په ښه ډول را وپېژندل د ترکي ليکوالې ايلف شاپاک شهکار اثر ( د مينې څلوېښت اصول) و چې په دري کې د ملت عشق په نامه بېلابېلې نسخې لري او په پښتو کې د مينې څلوېښت اصول په نامه ژباړل شوی دی. په دې وروستيو کې د »پله پله تا ملاقات خدا «اثر هم د مولانا پېژندنې او پر ما د اغېز لپاره يو بل اثر و، ښايي همدا اغېز وي چې په ځينو بيتونو کې رانه يادونه شوې وي، يو مهال راته خپل يو درونډ استاد په دې مقام کې راغی، عجيبه دا وه چې خپله يې د مولانا او شمس له ژوند سره هېڅ علاقه نه درلوده، خو ماته تل الهام ښوونکی و، ځکه مې دا بيتونه ورته وليکل:

د خدای د ښايستونو دنيا ستايي يو سړی
په عطرو په ګلونو باندې پايي يو سړی
نه شمس ته عقيدت لري نه يار د مولانا دی
خبر نه يم چې کوم پلو مې بيايي يو سړی
پروا نه کړي که لار نه وه د خضر تر چينې
په شپو کې به د شمعو رمه پيايي يو سړی

تر دې دمه مې چې د کومو شاعرانو بېلګې راوړې، ټول نارينه وو، د مولانا او شمس مينه او راز او نيـــــاز هم د جنسيت په لحاظ د دوو نرانو تر منځ شوې عرفاني کيسه ده، له همدې امله د ځينو اخلاقي او رواجي اصولو له مخې ورباندې نيوکې شوې دي. په پښتو شعر کې د ځينو ښځينه شاعرانو بېلګې هم شته چې د مولانا او شمس اغېز په ښکاره او پټه ښه ورباندې څرګند دی او دا ډېره جالبه ده. دلته به د ځوانې او نوښتګرې شاعرې امنې فنا سعيدي له غزلونو څو بېلګې يادې کړم:

د چا په سترګو کې مې ومونده دنيا د مينې
له مانه ورکه وه دا يو عمر معنا د مينې
په ما دې مَی د مينې وڅښه ما تر حاله بوځه
شمس مې شه، يوځلې دې ما کړه مولانا د مينې

دويمه بېلګه:

شمس يې زما د الهامونو پير يې؟
که تغزل د مولانا يې زما؟
ستا التفات باندې ژوندۍ پايمه
ته لکه دم د مسيحا يې زما

درېيمه بېلګه:

د چا له غمه داسې په زړه مات ګرځې ملنګه
چې ما غوندې بې وسه او ميراث ګرځې ملنګه
له قاله حال ته راغلې مستانه مولوي وار
اوس جوړ د شمس په نوم ښکلی کليات ګرځي ملنګه

که څه هم زموږ د تصوف حلقو کې به د ښځينه مريدانو ښکاره حضور ډېر کم پيدا او د ټولنيزو شرايطو او دوديزو اصولو له مخې ناممکن وي، خو امنې له خپل محبوب هيله کړې او وايي چې »راشه يو ځلې دې ما کړه مولانا د مينې«، دلته ښايي يو ځانګړی حالت مطرح وي، خو په ټوله کې د شاعرې په اړه هغه تمايل را څرګندوي چې د دغې عرفاني پېښې خواته مو پام اړوي. په دويمه برخه کې بيا د مولانا د عرفاني شخصيت پر ځای د هغه تغزل او هنري ځواک ته اشاره شوې، ځکه چې مولانا د غزل د هنر او ښکلا له ليدلوري هم تر ننه د ډېرو اوچتو شاعرانو د تقليد وړ دی او وي به وي. په همدې ډول درېيم بيت کې بيا پيغام اصلي موضوع ته را ګرځي، ځکه د شمس له ملاقات وروسته پر مولانا د شاعرۍ د الهامونو باران پيل شو او يو فقيه او صوفي د خپل عصر په نامتو شاعر بدل شو.

په دې کې شک نشته چې د ګڼو نورو شاعرانو په شعرونو کې به داسې ګڼې بېلګې موجودې وي، د استاد شاعر پيرمحمد کاروان په غزلونو کې مې هم دا ډول څرګندې او نا څرګندې اشارې ليدلي دي، خو څومره چې د مولانا پېژندنې مطالعه د پښتنو اديبانو او شاعرانو تر منځ عامه او پراخېږي، هومره به دا سپېڅلې اغېزې هم خپل ځان را څرګندوي او د هغې ورځې په هيله چې د پښتو شعر پر ګلبڼ د دا ډول سپېڅلي باران معطر څاڅکي ډېر او ورسره د عرفاني ادب ځانګې غوټۍ وسپړي.

**مأخذونه**

۱ ـ حقيقي، سالک، سعيد او مصطفی. د عشق لمر. دانش خپرندويه ټولنه: کابل.۱۳۹٦ل.
۲ ـ رحماني، ګل رحمن. تر غبار لاندې چينه. سمون خپرندويه ټولنه: کابل ۱۳۹۹ل.
۳ ـ سعيدي، امنه فنا. د طوبا تر سيوري لاندې. دانش چاپخونه: کابل. ۲۰۱۹م.
۴ ـ شاپاک، ايلف. ملت عشق. انتشارات جامي: کابل. ۲۰۱۷م.
۵ ـ نادري، پرتو. مولانا از بلخ تا قونيه. قلم نړيواله ټولنه: کابل. ۱۳۸۹ل.

★★★

ژوند يوه داسې سپينه کتابچه ده چې د زېږېدنې پر مهال مو له ستر ذات څخه د يوه سوغات په توګه تر لاسه کړې ده؛ د دې کتابچې هره پاڼه بايد په ښه فکر او عمل سره ډکه شي او بيرته مهربانه رب ته وسپارل شي.

★★★

داسې کړنې تر سره کړئ چې د کار چاپېريال مو جذاب او زړه راښکونکی شي، د جذب دا قانون زده کړئ او په هر کاري چاپېريال کې ترې ګټه واخلئ.

★★★

پوه او هوښيار انسان هغه دی چې له زړه کار وکړي، ځکه له دې پرته د ارامۍ مخ نه ليدل کيږي.

★★★

\- - - - - - - - - - - - - - - - - -

سياف زاخېلوال

## د ادبياتو ارزښت (۲) برخه

**ادبيات و ښکلا پېژندنه**

موږ ډېر اورېدلي/ اورو يې چې څومره ښکلې دی. ښکلا پېژنده يو ډېر ستر بحث دی، څوک ښکلا معروضي ګڼي يانې د دې نظريې خلک ښکلا په عينې څيزونه کې لټوي او وايي چې ښکلا په طبيعت کې ده . څوک بيا ښکلا موضوعي مسله يادوي يانې وايي چې ښکلا په بيروني نړۍ کې نشته دا ټول د خيال، فکر او نظر کمال دی چې بيروني څيز ښکلی کوي/ ښکلی يې مني.

او ځينې يې منځ لارې دي، يانې ښکلا د موضوعي کمال و جمال پر مرسته د معروضي څيز/ کس ته د ښکلا له ليد لوري کتل او منل دي. په هر حال د ښکلا په هکله زه ځان دومره نه بولم چې په دې نظرونو کې د يوې خوا نظر ومنم؛ خو ادبيات او ښکلا پېژندنه يو د بل لپاره بايد دي. که چېرې ښکلا نه وه، ننني ادبيات به دومره ښکلي نه ول او که ادبيات نه وی، چا به ښکلا پېژنده.

د ادبياتو له برکته خلک خپله ښکلا ډېر ژر پيدا کولی شي او هر چا چې خپله ښکلا وموندله، هره ماته به ورته تجربه وي او هره بريا به ورته د ژوند خوند وي؛ تاسې که د کونډې زوی ( ممنون مقصودي ) فلم کتلی وي، خورا ښه فلم دی او له سپينږيرو نيولې ان ځوانان يې هم د بيا بيا ليدو شوق لري، دا هم د اديب کار دی چې دا فلم يې لومړی په داسې ځايونو کې ډک کړی دی چې نه عصري سيمې دي او نه هم موډرنې؛ خو بيا هم په ليدو يې سړی د ښکلا احساس کوي.

نورو خلک به يې د وخت تېرېدو لپاره ګوري؛ خو اديب چې يې ګوري، خپله ښکلا پکې پيدا کوي، له چناره د شادګلي راغورځېدل ورته د يو کليوالي ژوند ښکلا ورښيي، غوا پر سپۍ بدلول اصلاً کم عقلي ده، خو بيا هم د ادبياتو له برکته دا صحنه تر ټولو ښکلې صحنه ده، ارتې تنې او اورد تعويز د لېونې نښه ده؛ خو دا هم د ادبياتو برکت دی، که چېرې دا صحنه پکې نه وای، شايد دومره خوندور فلم به نه و. همدا خو ادبيات دي چې ښکلا پسې منډې وهو او همدا ښکلا ده چې چې سړی يې په ليدو خوشالېږي. **پای**

## د عبدالقادر خان...

لپاره قرباني ته چمتو دی ځکه عشق هغه يوازينی لار ده، چې د هغې په وسيله انسان خپل اصلي او حقيقي معشوق ته رسېږي. څوک چې د دې معشوق د وصال هيله لري، بايد د هغه په عشق کې صادق شي او که صادق نه شي، هيڅکله به د هغه د مهر لايق نه شي. عبدالقادر خان په دې باب وايي:

د عشق په کار کې چې څوک صادق شي
د يار د مهر هله لايق شي
دويي د دواړو ترمينځه ووځي
عاشق معشوق شي، معشوق عاشق شي (خټک، ۲۰۰۲، ۲۸۸)

په عشق کې د عاشق د صداقت او پوخوالي نښه دا ده، چې عاشق به د خپل معشوق له عدم التفات او جفا څخه شکايت نه کوي، ځکه دا شکايت يې په عشق کې د خامۍ او صداقت د نشتوالي نښه ده.

لا د عشق اومې لرې عبدالقادره!
چې د يار د جفا زار کوې يا نخولې (خټک، ۲۰۰۲، ۱۸)
اوم کباب د اور په تاو ژړا فرياد کا
که د عشق له اوره آه وکړم لا خام يم (خټک، ۲۰۰۲، ۱۰۱)

په عشق کې د رښتيني عاشق بله نښه دا ده، چې عاشق د خپل معشوق د وصال د وخت د راز او نياز کيسې له نورو خلکو سره نه شريکوي ځکه دا د ده او د ده معشوق ترمنځ يو راز دی لکه عبدالقادر خان چې وايي:

هر چې لاف د عشق کا بيا له عشقه ګفتګوی کا
تشې دعوې کاندي په سالوس يې جامه رنګه
ګفت په شريعت دی سکوت په حقيقت دی
کله ويل کاندي مقرب د شاه له څنګه(خټک، ۲۰۰۲، ۳۲۹)

خو دا په هغه وخت کې کېږي چې عاشق د خپل معشوق د عشق په لاره کې نوی قدم نه وي ايښی، ځکه د نو آموزه عاشق په باب ويل کېږي:

نو اموز عاشق بلبل دی، شور يې ډېر مينه يې لږه
که مثال د کامل غواړې و پتنګ ته ننداره کړه (خټک، ۲۰۰۲، ۱۹)
چې د عشق له اوره تښتي عاشق نه دی
د خپل ځان په سولو شي د پتنګ سوبه (خټک، ۲۰۰۲، ۱۹)

په رښتيني او حقيقي عشق کې چې کله کوم عاشق پوخ شي هغه بيا هيڅکله د خپل معشوق د بېلتون او جلا والي احساس نه کوي همېشه يې په خوله دا خبره وي:

زه او ته په محبت کې نه ځائيږو
زه او ته له مينځه ووتی يکتا شوی (خټک، ۲۰۰۲، ۱۹۸)

ځکه په داسې حالت کې عاشق نور په خپل معشوق کې فنا شوی وي او د دې فنا له لامله د هغه پر فکر او حواسو يوازې د خپل معشوق سيوری پروت وي او بس.

د دويی خبرې مه کوه مطربه
په نغمه کې يو يو وايه نه دو دو (خټک، ۲۰۰۲، ۱۹)

هغه نو آموزه او خام عاشقان چې په عشق کې لا داسې کيفيت ته نه وي رسېدلي، هغوی هم بايد د چيغو او فرياد پر ځای په عشق کې د خپلې خودۍ جامه پرې کړي، تر څو د دې درياب په وجود کې منحل شي.

د خودۍ باد چې وباسې له سره
د حباب نامه يې لاړه شي درياب شي (خټک، ۲۰۰۲، ۱۹)

ځکه د خودۍ جامه د ده او د ده د معشوق ترمنځ حجاب ده، که چېرې هغه له خپل ځانه دا حجاب لرې کړي، بيا به ووينې چې معشوق يې تر خپل ځان نه هم ده ته ډېر ورنيږدې دی.

يار له ما نه لا وما وته نږدې دی
که تر ميان حجاب پاره پاره دما شوی (خټک، ۲۰۰۲، ۱۹۸)
د »يم «ويل په طريقت کې کافري ده
د يم يم په قافيه راوړل پښېمان يم (خټک، ۲۰۰۲، ۹۷)

**وصال:** له تعين څخه لرې کېدل، خپل وجود تر پښو لاندې کول، له مجازي نړۍ څخه جدا کېدل او يا وصال حق دی او واصل د حق، حق دی.(هيله من، ۱۳۸٦، ۲۵۷) د وصال د عرفاني او تصوفي اصطلاح په اړه د عبدالقادر خان خټک په ديوان کې ډېر ښکلي بيتونه راغلي دي، د بېلګې په توګه په لاندې بيتونو کې وايي:

که وصال عبدالقادره د يار غواړې
يو قدم په دنيا کېږده بل په نس (خټک، ۲۰۰۲، ٦۵)
يو يې له دنيا نه واخيست بل يې له عقبی نه
بيا يې موند وصال د خپل مطلوب په قدمين (خټک، ۲۰۰۲، ۳۱۳)

دا يوازې عبدالقادر خان خټک نه دی، چې د محبوب د وصال لپاره له دنيا او د دنيا له لذتونو څخه تېرېږي، بلکې د اسلامي تصوف او عرفان په تاريخ کې داسې ډېر عرفاني شخصيتونه شته، چې د دنيا ډېر ښه ژوند ته يې، د خپل حقيقي محبوب د وصال په خاطر شاه کړې ده. مثلاً ابراهيم بن ادهم(رح) يو پاچا ؤ، خو خپله پاچاهي يې د همدې حقيقي محبوب د رضا او وصال لپاره پرېښوده او ملنګۍ ته يې مخه کړه. همدا لامل دی چې د عبدالقادر خان خټک په شعرونو کې دا برخه ېېخي ډېره برجسته ښکاري؛ حتی د دنيا تر څنګ د بهشت له نعمتونو څخه هم ورته تېرېږي او وايي:

که د وصل له لذته يې خبر شي
د بهشت و نعمتونو ته به شا کا
چې اعلی وي په اعلی به يې نظر وي
چې ادنی وي همګي چارې ادنی کا (خټک، ۲۰۰۲، ۲۷)

له بلې خوا دا خبرداری هم ورکوي چې، د محبوب وصال که هر څومره په لوړ قيمت عاشق حاصل کړي، بيا هم بايد د هغه د وصال په لذتونو کې دومره ډوب نه شي، چې د هغه له جدايۍ څخه پرې غافل شي، ځکه چې د هغه جدايي هر وخت عاشق ته په کمين کې ناسته وي؛ په دې اړه وايي:

د وصال په دولت ناسته غافل مه شه
جدايي و واصلانو ته کمين کا (خټک، ۲۰۰۲، ۳۰)

**ساقي:** هغه چا ته ويل کېږي، چې د الهي اسرارو پيمانه د خلکو زړونو ته ور تويوي او يا هغه شخص ته ويل کېږي، چې د توحيد پر نغمه د خلکو زړونه په مستۍ راولي. (هيله من، ۱۳۸٦ ، ۱۵۸) دغه عرفاني او تصوفي اصطلاح هم د عبدالقادر خان خټک په لاندې بيتونو کې پر همدې مفهوم او معنا سره استعمال شوې ده:

د ساقي د پيالې قدر زاهد څه زده
چې په ګوټ يې سرومال ښندي رندان دي (خټک، ۲۰۰۲، ۱٦۱)
په ازل يې زما دُرد د نورو صاف کړه
له ساقي سره زما سينه صافي ده (خټک، ۲۰۰۲، ۱۴۵)

خو د عرفاني او تصوفي اصطلاحاتو په ځينو نورو قاموسونو کې بيا (ساقي) پير يا مرشد ته هم ويل شوی دی. ښايي همدا لامل وي چې د عبدالقادر خان خټک په لاندې بل بيت کې دغه عرفاني او تصوفي اصطلاح د پير يا مرشد په معنا باندې کارول شوې ده:

له هستۍ خپلې فاني په حق باقي وو
ډېر يې مست د عشق په ميو کړه ساقي وو (خټک، ۲۰۰۲، ۳۳۲)

**غافل:** هغه چا ته ويل کېږي چې حق يې ليدلی وي خو بيا يې هم په طلب کې ځنډ کوي.(هيله من، ۱۳۸٦، ۲۰۴) دا عرفاني، تصوفي اصطلاح د عبدالقادر خان خټک په دې بيت کې په همدې معنا کارول شوې ده:

غافله وخورې دا سترګې تورې
زه تاته ګورم ته بل ته ګورې (خټک، ۲۰۰۲، ۲۸۴)

خو په ځينو نورو بيتونو کې يې د بې علمه، ناپوه او له عقل څخه د خلاص انسان په معنا باندې هم کارولې ده، لکه په دې لاندې بيتونو کې:

خندا هوس شي له جاهلۍ
حُزن اندوه شي له عاقلۍ
که لږ بيدا شي خونه به ورانه کا
جهان ودان دی په غافلۍ (خټک، ۲۰۰۲، ۲۹۲)
غافلان به په دنيا کې خوشحالي کا
عاقلان به هميشه کښيني نوليږي (خټک، ۲۰۰۲، ۳۱٦)

اصلي خبره دا ده، چې په اسلامي تصوف او عرفان کې غافل هغه چاته هم ويل کېږي، چې الله سبحانه و تعالی يې په ياد نه وي، د هغه تبارک وتعالی ذکر نه کوي او د اخرت پر ځای يې د دنيا ته تمايل ډېر وي، لکه د عبدالقادر خان خټک په لاندې بيت کې چې د داسې جاهلو خلکو په اړه راځي:

چې د خدای په ياد مشغول سړی هغه دی
دا غافل خلک حساب دي په خرو مرو (خټک، ۲۰۰۲، ۱۱۵)

**يادونه: پاتې برخه په راتلونکې ګڼه کې خپرېږي.**

## ارسطو مو ولې په...

ژوند نه شو لرلی، واقعي ژوند داسې نه دی چې يوازې د بشر خير وپېژنې او وروسته د حسنه حيات يا ژوند د تېرولو لپاره اړين معنوي او اخلاقي عادتونه حاصل شي.

زموږ د ژوند لويه برخه له دې شيانو څخه جوړه ده: له خطر او زيانونو ډډه کول، د تصميمونو بدلون او ورځخه مخ اړول، د نا مطلوبو پايلو منل، ناسمې وړاندوينې، د نورو ابهامونه او حتی زموږ د خپلو انګيزو ابهام، که وړاندې لاړ شو دا هم ويلی شو چې د سمو او سالمو انسانانو کړنې او احساسات هم د وړاندوينې وړ نه دی. د هرې سناريو لپاره شونې ده چې ګڼې نامطلوبې پايلې هم شته وي او تصميمونه مو هم هر وخت ښايي د ناپېژانده ښکارندو تابع وي.

زموږ د نقشو له منځه تلل مخامخا د فجايعو محصول نه دي، کله کله په ژوند کې ډېره نېکمرغي د تدريجي زيان او ضرر څخه د ممانعت او مخنيوي په مانا ده، موږ تر ډېره اړتيا لرو چې خپلو نامکنو او په سختۍ حاصلېدونکو خوبونو ته د رسېدو لپاره لارې پيدا کړو، خو د برخليک منل يا ورسره مبارزه مېړانه غواړي، زموږ شجاعت يا مېړانه معمولا اهميت نه لري، د نړۍ د ګڼو خلکو ژوند د توهم، کړاو او نه ستړو کېدونکو هڅو يو ترکيب دی، دا شرايط کولی شي چې د انسان شخصيت جوړ کړي، خو ارسطويي نفيس فضليتونه په کې نه شي رامنځته کولی.

د ننې ژوند تنوع او زړه تنګی ته په پـــام سره د فلسفي لپاره فکري نوښت اړين دی، خو د فيلسوفانو په په انحصار کې بايد نه وي. کله چې يو ارمان د پوره کېدو وړ نه وي، څنګه د يوې لاړښودې کرښې ښه خپله کړي؟ د ارسطو معنوي رغښت د ژوند له زيانونو څخه د تېرېدو يا خونديتوب مخشص ټکی نه لري.

اوس په لنډون سره ويلی شو چې که چېرته فلسفه وغواړي چې د ژوند سبک شي، بايد د يوې داسې مفکورې بنه ولري چې موږ ته د واقعي ژوند په نا مطلوبو او بدلېدونکو شرايطو کې لارښوونه کوي، خو دا ځانګړنه يوازې فلسفي مهارت دی؟ د ناخوالو د درک لپاره فکري نوښت اړين دی، دا نوښت که څه هم د فلسفي پالنې لپاره اړين دی، خو د فيلسوفانو په انحصار کې نه دی.

ارسطو هغه عالم و چې د بشر د کمال په اړه يې هيله ښوونکی ليدل لوری درلود، خو ژوند يوازې په هيله نه تېرېږي، که فلسفه غواړي چې د ژوند سبک وګرځي، بايد خپلې ځينې نيمګړتياوې هم ومني، چې دې مقصد ته د رسېدو لپاره مو ارسطو مرسته نه شي کولی.

\- - - - - - - - - - - -
\- - - - - - - - - - - -

**د مقالې پای**

# زېرى

علمي، څېړنيزه او ادبي پښتو ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د ۱۴۰۳ ل.کال، د چنګاښ او زمري مياشتو ۷-۱۰ مه ګڼې | پرله پسې ۴۲۳-۴۲٦ مه ګڼې

**مسئول مدير:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کتنپلاوی:** اکاډميسين څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل

**بريښناليک:** zerai1316@asa.gov.af >< zerai1316@gmail.com

**د اړيکي شمېرې:** (۹۳+)(۰) ۷۸۰۸۳۱۹٦۰
(۹۳+)(۰) ۲۰۲۲۰۱۲۷۹

● په زېرى جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز څېړنيز ارګان

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د يوې ګڼې بيه:** پنځه افغانۍ

ليکوال: پوهاند دوکتور حنيف خليل
ژباړن: څېړندوی حمايت الله ښاد

## پښتو ادب او ختيځپوهان (۱) برخه

د ختيځپوهانو (Orientalists) نومونه (اصطلاح) د هغو څېړونکو او پوهانو لپاره کارېږي چې له لوېديځ څخه ختيځ ته راغلي وي او پر ختيځو ژبو، مذهبونو، ارزښتونو، ادب، فرهنګ، تاريخ او نورو موضوعاتو باندې يې په بېلابېلو وختونو کې علمي څېړنې کړې وي. د دوی څېړنې او علمي خدمتونه ښايي ډېر لاملونه ولري، خو په بنسټيزو خوځښتونو کې يې دا لاندې ډېر څرګند او مهم دي.

۱. د ۱۸۵۷ز. کال د آزادی له جګړې وروسته چې انګرېزان د هند د نيمې وچې د نيولو لپاره راغلي وو او غوښتل يې چې پر دغه نيمه وچه خپله واکمني ولري، نو د هند د نيمې وچې سياسي کړيو تر وسې وسې د انګرېزانو پر وړاندې خپله مبارزه پيل کړه. په ځانګړې ډول هغو قومونو چې قوي فرهنګي ارزښتونه يې درلودل، خپل منظم خوځښتونه پيل کړل. څرنګه چې دوی ته محسوس شوې وه چې د انګرېزي ښکېلاک (امپرياليزم) په شتوالي کې د دوی فرهنګي ارزښتونه، ژبنی پېژندنه، دودونه، عقيدې او د ژوندانه انفرادي طريقې خوندي نه دي، يا يې ساتل ستونزمن دي، نو د انګرېزي استعمار پر وړاندې يې ډول ډول خوځښتونه پيل کړل. انګرېزانو د دوی په مقابل کې پر نورو خوځښتونو (محاذونو) د خپل اغېز سربېره دوی ته د دې احساس ورکولو هڅه هم کوله چې هغوی به د دوی ژوند ژواک، دودونو، ارزښتونو، ژبو، ادبياتو او مذهبي لاملونو ته هېڅ تاوان و نه رسوي، بلکې اپوټه به يې د ساتنې هڅه کوي. دغې موخې ته د رسېدو لپاره يې د دې ځای پر ولسونو، د دوی پر ژبو، ملي ارزښتونو او لاملونو څېړنې پيل کړې. د دې ځای ژبې يې زده کړې او بيا يې په هر ډګر کې بنسټيز کارونه وکړل.

۲. د انګرېزانو يوه موخه دا هم وه چې له خپلو ارزښتونو، دودونو او عقيدو څخه د هند د نيمې وچې خلک هم خبر کړي، نو په دې لړ کې يې له خپلو ژبو د دې ځای ژبو ته ژباړې وکړې او د دې ځای له ژبو څخه لاس ته راغلي علمي او ادبي آثار يې په خپلو ژبو کې شامل کړل.

۳. لوېديځ پوهان په علمي او ادبي کچ تر ختيځوالو پوره مخکې وو، د دوی علمي تجربو او څېړنو زباتوله چې په ختيځو ارزښتو د پوهېدو هڅې او څېړنيز کار وکړي.

۴. لوېديځ ليکوال او قلموال په فطري ډول خپل چاپېريال او ساينس ته ډېر تمايلات لري، نو په ټوليز ډول دوی د حقايقو په اصلي او معروضي بڼه د وړاندې کولو او څېړلو هڅه کړې ده.

۵. د ختيځ جغرافيې، چاپېريال او په علمي او ادبي کچه ارزښتناکو روايتونو او تاريخي لاملونو او د ختيځ اهميت او جذابيت لوېديځ پوهان د څېړنې او ارزونې لپاره چمتول کړل او هغوی دا اړتيا درک کړه چې دلته (ختيځ) علمي او ادبي زېرمې تر پلټلو او څېړلو وروسته نړۍ ته وړاندې کړي.

پر پورتينو خوځښتونو او لاملونو سربېره ښايي ډېر لاملونه نور هم وي. ختيځپوهانو په بېلابېلو موضوعاتو کار او څېړنې کړې دي، خو دلته د ځينو بنسټيزو موضوعاتو يادونه کوو، چې په لاندې ډول دي:

۱ـ لغت جوړونه
۲ـ ګرامر
۳ـ د پښتنو اصل او نسل
۴ـ د پښتو ژبې بنسټ، لهجې او نور ژبني لاملونه
۵ـ ژباړې
٦ـ د پښتو لرغوني ادب بېلابېل اړخونه
۷ـ د لرغونو شاعرانو تذکرې
۸- د پښتو، پښتنو او پښتو ادب تاريخ
۹ـ ولسي ادب (فوکلور)
۱۰ـ مذهبي ادب
۱۱ـ نور بېلابېل موضوعات

څرنګه چې د دغو ختيځپوهانو کار هم بنسټيز او هم ابتدايي دی، نو په ډېرو ځايونو کې يې ډېرې تېروتنې هم کړې دي. د دوی په کارونو کې خامۍ او کمۍ هم ليدل کېږي، خو دا يې د کار ارزښتکمولای نه شي، ځکه په پښتو کې د څېړنې او ارزونې کار هم دوی پيل

۲ مخ

ليکوال: دوايت فورو
ژباړن: پوهندوی ګل رحمن رحماني

## ارسطو مو ولې په درد نه خوري؟ (۱) برخه

که چېرته فلسفه زموږ د ژوند سبک وي، بايد د واقعي ژوند لارښوونه راته وکړي، خو که چېرته په دې چاره کې ارسطو هم قناعت نه شي راکولی چې فلسفه په ژوند کې په کار راځي، بيا خو خپله دی هم له داسې توهماتو سره لاس او ګرېوان و چې د واقعي ژوند لپاره ارزښت نه لري.

د ګڼو هغو فيلسوفانو لپاره چې موږ يې پېژنو، فلسفه يوازې يوه فکري کرښه نه وه، بلکې د هغوی د ژوند يو بنسټيز سبک و، د سختو تصميمونو د نيولو او د شخصي ژوند د کنټرول لپاره حکمت ګڼل کېده، په معاصره نړۍ کې چې د ژوند سبک په يوه شخصي چاره بدل شو او فلسفي اخلاقياتو د سمو اعمالو پر توجيه تمرکز وکړ، ورسره سم فلسفي هم د عملي ژوند د لارښوود په توګه خپل رنګ وبايله، خو د وروستيو کلونو په ترڅ کې له اکاډميکي فضا څخه وتلو مسايلو کې د فلسفې کارونه يو ځل بيا ددې سبب شوه چې د ژوند ځانګړي سبک په توګه د پاملرنې وړ وګرځي.

د فلسفې پوهان په دې نظر دي چې که چېرته فلسفه رښتيا هم وغواړي چې د ژوند سبک شي، بايد د معاصرې اخلاقي فلسفې ميراث ته هم پام واړوو چې له واقعي ژوند سره چندان تړاو نه لري. د هيوم، کانټ ميل او د دوی د وارثانو اثارو کې داسې عملي څه نه ليدل کېږي، خو کله چې لرغوني فلسفې په ځانګړې ډول د ارسطو د فلسفې پلټنه وکړو؛ هلته بيا د بشر د سعادت، عملي حکمت او د تر لاسه کولو لپاره يې د اړينو کيفياتو څخه ډېر څه موندلی شو.

اوس که چېرته ارسطو هم نه شي کولی موږ په دې قانع کړي چې فلسفه زموږ په نني ژوند کولو کې په درد خوري، البته پرته د هغه د خپلو عملي کړنلارو څخه، بيا نو هغه ته يو ارمان پالی شخص او تيورسن ويلی شو چې د فلسفي تيوري يې د ورځني ژوند د تېرولو لپاره کوم ارزښت نه لري.

هغه وايي چې که چېرته انسان ( ادم) په ښه ټولنه او غوره کورنۍ کې را لوی شي، مودب، با انضباطه او دده په خبره له طبيعي فضيلتونو سره ستر شوی وي، هغه مهال کولی شي چې د دوديز تعريف پر بنسټ ښه ژوند ولري، خو په باور يې دا نه شي کولی چې بشر عالي حيات يا ژوند ته ورسوي، ځکه چې د بشرـ د سعادت لپاره له ژور او جامع معرفت څخه بې برخې دی او د سعادت حاصلول معنوي فضليتونو ته اړتيا لري چې دغه فضايل يوازې او يوازې فلسفه رامنځته کولی شي. حقيقت دا دی چې د ارسطو لپاره فلسفه يوازې د ژوند سبک نه دی، بلکې د ژوند تر ټولو غوره بڼه ده او په هيله کولو ارزي، ياني داسې حيات يا ژوند چې د بشر د عقل تجلا ورته ويلی شو.

په لنډون سره بايد ووايو چې د غوره او غوړېدلي ژوند د کسب لپاره د ارسطو فورمول له هغو طبيعي فضايلو څخه جوړ دی چې پر عملي حکمت ښکلی وي، د عدالت، رښتينولۍ او مېړانې لپاره خورا اړين دی او دغه معرفت بايد د واقعي ژوند په شرايطو کې په درد وخوري يا وکارول شي. او مهمه دا چې دغه غوره ژوند د هغه عمر تمرين دی چې د ياد شوي فلسفي معرفت تر لارښوونه لاندې حاصلېږي.

ارسطو په خپله زمانه کې په داسې ارمان پالو چارو بوخت و چې د ورځني ژوند لپاره په درد نه خوري، خو واقعي نړۍ څه بل ډول ده، موږ له کم فهمه او متناقضو انسانانو سره زيات مخامخ کېږو، داسې افراد چې له نامعلومو شرايطو څخه اغېزناکې او مبهمې انګيزې لري. هر تصميم ممکن په په مختلفو شرايطو کې متضادې ماناوې ولري او په ورځني ژوند کې همداسې له ګڼو استثنا اتو او ځانګړتياوو سره سروکار ولرو چې په فرد پورې منحصرې، نه تکرارېدونکې او ناپېژندل شوې دي.

د ارسطو د ليدلوري ستونزه دلته ده چې د هغه د خوښې فضليتونه په تجربه، تکرار او تمرين سره حاصلېږي چې اکثره وختونه د استثنا اتو په اړه ځواب نه ورکوي. سربېره پر دې لکه ده، چې اشارې کړې، عقل پر تعميماتو ولاړ عمل دی، خو د ژوند په هر عمومي اصل کې هر وخت شونې ده چې نوي مخصوصاتو او استثنا ات را څرګند شي او ارسطو خپله هم پر دې پوهېده. په همدې اساس نوموړي د »فرونسيس «نظريه مطرح کړه چې مانا يې مصلحت يا عملي حکمت راوړلی شو.

خو دا بايد دقيقا درک کړو چې کوم مهارتونه موږ ته ددې امکان راکوي څو د تازه ښکارندو پر وړاندې تل سم تصميم ونيسو؟ که چېرته ياد شوي فضليتونه پر تجربه او عادت ولاړ وي او د بشر د خير ښکېنې لپاره فلسفې ته ورتګ پر تعميماتو تکيه کوي او له دې ډلې يو هم د نوو مخصوصاتو په درد نه خوري؛ نو د کومې جادويي وړتيا پر مټ کولی شو چې د خپلې زمانې اړتياوې پوره کړو؟ د تازه يا ناعادي ښکارېدونو اړوند اخلاقيات او اهميت يې ممکن په عمل کې پر تيوري جوړونه د عمل پالنې د غلبې په مانا وي.

ارسطو د فرونسيس په باب ډېر مبهم و، خو ښکارېده چې دا يو استدلالي مهارت نه دی، معکوس استنتاج، استقراء (را ايستنه) او برهان هم د فرونسيس د تشريح ځواک نه لري، ځکه چې دا د موردونو تر منځ تشابه ( ورته والي) ته اړتيا لري، خو يوه ځانګړنه يې د تشتابه نشتوالي نا عادي والی دی، ځکه تعريف ته په پام سره نا مساعده يا ستونزمنه چاره د متعارفو مفاهيمو له دايرې څخه وتلې ده. د ارسطو د فضيلتونو او بشري نېکمرغۍ نظريه ـ چې زموږ د غوړېدو او خوښۍ اړتيا ده ـ يوه داسې موخه ده چې په سختۍ تر لاسه کېږي او د خپل وخت ځينې غوښتنې هم بايد ورڅخه قربان کړو.

د ارسطو خبره دا ده چې مطلوب حيات يا فاضلانه ژوند ته ورسېږو، خو که دې ته ورسېږو هم مډرن

۳مخ

څېړنپوه محمد نبي صلاحي

## د اسلامي او افغاني فرهنګ په ترويج او ساتنه کې د رسنيو ونډه (۲) برخه

د نمونې په توګه:

کله چې يو مسلمان مجاهد، د خپل هېواد د آزادۍ او د خپلې اسلامی عقيدې په لار کې خپل ژوند له له لاسه ور کړي، موږ داسې و نه وايو او نه داسې وليکو، چې:»ووژل شو«، بلکې داسې وليکو چې »شهيد شو .«دا زموږ يو اسلامي حق دی او دا حق، بايد زموږ افغاني رسنۍ په ډېر ښه ډول ترويج او دود کړي.

دريمه خبره دا ده چې؛ ښايي د ښوونې او روزنې د ډګرپوهان، څېړونکي، سياست دانان، تيوريسنان او فيلسوفان، د افغانستان د ودانولو او جوړولو لپاره، د ډېرو لارو چارو وړانديز وکړي، مګر په کومه لاره او تدبيرباندې چې، د دغو ټولوپوهانواو د ښوونې او روزنې د ډګر د ماهرينو او متخصصينواتفاق اويووالی راغلی دی، هغه د پوهنې (معارف) له لارې د ګران افغانستان جوړول دي . همدغه يې اساسي لاره ده او همدا ډګر او لاره، د حکومت ځانګړې پاملرنه غواړي.

د دې لپاره زما لومړی وړانديز دا دی چې، له کابل نه بهر، د ولايتونود ښارونواو بيا په ځانګړې توګه، د کليو او اطرافو ښوونځيو ته ډېر پام وشي. د دې کار دليل دادی چې، که هرڅومره په پلازمېنه کابل کې د ښوونې او روزنې سويه لوړه وي، خو چې په کليو او بانډو کې، معارف ته خاصه پاملرنه ونه شي، د جهالت توپان به په کابل کې هر څه له منځه يوسي.

همدا اوس په کابل کې د کتابونواو مجلو سيلاب روان دی، مګرد هېواد په ولايتونو، کليو او بانډوکې، د کتابونو سخت ضرورت دی.

افغانستان علم ، کتاب او کار ته ډېر زيات تږی دی، پرېږدئ چې، وړوړکتابونه چاپ او هغه زياتره، اطرافونواوکليو ته ولېږل شي. څومره به ښه وي چې، زموږ درانه پوهان او څېړونکي، کليو ته خالي لاس ولاړ نه شي، کتابونه دې له ځانو سره وړي او هلته دې وېشي.

کاشکې! هغه افغاني پوهان چې په بهر کې اوسي، دوی بايد خالی لاس خپل هېواد ته را نه شي، دلته د کرغېړن جنګ په سبب هر څه له منِځه تللي دي، کتابونه او نور لازمي تدريسي سامان الات او کمپيوترونه دې له ځانو سره راوړي.

کاشکې! زموږ د هېواد په هر ښوونځی کې، په ښو ښو کتابونو سنبال کتابتونونه جوړ شي.

کاشکې! د هر افغان په کور کې، د تلويزيون پرځای کمپيوټر او کتابتون ووينو!

د پوهنې په بهير کې، زموږ عامې او ډېرې غټې ستونزې فرهنګي توپير؛ کلتوري وروسته پاتې والی( د هلکانو او نجونو په حساب)، د ښوونې او روزنې نامتوازن پرمختګ،د عامه پوهاوي کموالی، د مسلکي ښوونکو او استادانواود معياري کتابونواو نورو سامان الاتواو ودانيو بې دريغه کمښت دی. همدا اوس، په هېواد کې، د ښوونځي په شرايطوبرابر پنځه ميليونه ماشومان، د کلتوري وروسته پاتې والي او د نوروبېلابېلوعلتونو په سبب، له ښوونځيو نه بېخي بې برخې او محروم دي. دا يو لوی ناورين دی اوزموږ د سترې اندېښنې وړ خبره ده.

څلورم ټکی دا دی؛ »په دغه شېبه کې چې، دغه ليکنه کوم، هغه په زرګونويتيم، د حکومت له سترګو نه لوېدلي [منظور تېر حکومت دی] هېر شوي او اواره ماشومان مې سترګو ته درېږي، کومو ته چې تر اوسه پورې هېڅ پاملرنه نه ده شوې او د افغانستان په بېلابېلو ښارونو کې، له هر ډول زده کړې اومينې، بېخي محروم او د يوې ګولې ډوډۍ د پيدا کولولپاره ټوله ورځ، لالهانده اوسرګردانه ګرځي. هغه ماشومان چې، د ډېرې مينې مستحق دي او تل يې زما پټې سترګې را پرانستې او زه يې د دوی په اړه څه ليکلو ته اړ کړی يم.

ايا موږڅنګه کولی شو چې، دغه اواره کوچنيان، د ښوونې او روزنې په ډګرکې،
تر هميشنې او پياوړې پوښښ لاندې ونيسو؟!

موږ فکر کوو چې، که دا ماشومان، دغسې نور هم، بې تعليمه او بې سرپرستې ورځې پرېښودل شي، په راتلونکې کې، ډېرې نه کنټرول کېدونکې امنيتي او نورې ډول ډول جنايي ستونزې، له دوی نه پيداکېدی اوزېږېدی شي . بيا به، زموږ د افغاني ټولنې د اوږو باروې اودا يوه حتمي خبره ده.

په دغه تحليلي ليکنه کې ، په دې اړه حکومت ته ديوې ډېرې اسانه لارې، داسې وړانديز کوم:

دا ماشومان دې لومړی په پلازمينه کابل او بيا د ټولو ولايتونو په لويو ښارونو کې، ثبت او راجستر شي او مخصوص کارتونه دې ورکړل شي. د ورځې له سهاره تر درې نيمو بجو پورې، په کوم کار چې، همدا اوس لګيا دي، هغه دې کوي. په درې نيمو بجو دې، د ښار شل، پنځه ويشتو يا تر دې هم زياتو ټاکل شويو مرکزونو (په دې برخه کې په ښارونو کې، له ښوونځيو، جوماتونو او مدرسو له ودانيو نه کولی شي، کار واخيستل شي) ته ور وغوښتل شي، هلته دې، يو څو کسه ډاکتران چيک کوي، يو څه دارو درمل، يو ګيلاس شيدې اوبسکټ دې ورکوي، بيا دې يوازې د يوه ساعت لپاره، په لومړي سر کې يو څه ديني ښوونه او د نياوي سواد او بيا وروسته، يو څه تخنيکي مهارتونه، لکه ساعت جوړونه، راډيو جوړونه،د موبايل ترميم ، خياطي، د تلويزيون او نورو تخنيکي سامانونو د ترميمولو زده کړه، يو څه ورښيي او بيا دې، په څلور نيمو بجو باندې له همدغو لومړنيو (ابتدايي) ښوونيزو او روزنيزو مرکزونو نه، د خپلو کورونو پر لور رخصتېږي. دا پروژه دې لومړی په کابل کې عملي شي، بيا چې دلته يو څه کامیابه شوه، له هغه وروسته دې، دا کار د افغانستان په ټولو لويو ښارونو کې هم عملي شي او دا پروژه دې، هلته هم وغځېږي. په ډېره اسانه، وړيا او ډېر ارزانه ډول به، دغه تنکي ګلان چې، زموږ او تاسې تنکي لاسونه او پښې، متې او وزرونه دي، ليک لوست زده کړي. په لاسونو کې به ، د تخنيکي شيانو د جوړولو سامانونه( امبورونه، پلاسونه او چټکان ) واخلي او کسبي به وروزل شي. ډېر ژر به يې، په خپلوځانونو د تخنيکي کارکولو باور او اعتماد پيدا شي. بيا په راتلونکې کې، خپله لاره په ډېره ښه توګه په مخ وړی شي او انشاءالله تعالی، بيا نه خرابېږي او نه بې لارې کېږي. دا پروژه دې، د پوهنې، عامې روغتيا او ساينس او معلوماتي تکنالوژي وزارتونو تر سرپرستۍ او پوښښ لاندې عملي شي او په دې توګه به، زموږد ګران هېواد د جوړولواو انسان روزلو په برخه کې، يو ډېر پياوړی ګام پورته شي. د ملګرو ملتونود ماشومانو د ساتنې اداره، بهرنۍ انجوګانې او زموږ خپل هېوادوال چې، د حکومت دا کار ووينې، بيا هغوی هم مرستې ور سره کوی او کېدی شي، ډېری هېوادوال خپلې صدقې، خيراتونه او ذکاتونه دوی ته ورولېږي. يوازې په دې برخه کې، د حکومت له خوا د يوې ځانګړې پاملرنې سخته اړتيا ده. که حکومت په دې برخه کې نوره هم بې غوری وکړي او دا پلان عملي نه کړي، ددوی په حق کې به يې، ډېره غټه جفا او دومره لوی ظلم کړی وي، لکه يو څوک چې، په عام خيرات کې وږی تږی پاتې شي اوبيا به يې، ګناه د تاسو پرغاړه وي، ځکه موږ ټول او بيا په خاصه توګه حکومت، په دې برخه کې، ډېر تاريخي مکلفيت لري او دا کار په خبرو کې نه، بلکې بايد په عمل کې تر سره شي! «(۵)

په دې باب يوه پوه ويلي دي :

که يوپلاراو مور، خپل ماشوم ته، ددنيا هر څه ورکړي، خو چې تعليم يې نه وي ور کړی، هغو هېڅ شی هم نه دي ورکړي!

نو اې پښتنو، اې افغانانو، اې ميندو اوپلرونو!

لږ را وينښ او بيدار شئ، ستاسې بچيان د يوه لوی درياب غاړې ته، په توره تياره کې، لاسونه او پښې وهي. که پام پرې و نه کړئ اود علم اوپوهې رڼا ورونه رسوئ، د ناپوهۍ او جهالت توراو توند توپان به يې، تباه او بربادکړي اوبيا به تاسې ډېر زيات پرې وځورېږئ. که غواړئ چې، ستاسې بچيان، په رښتيا نېکمرغه او هېواد مو ودان شي، خپل بچيان د جوماتونو، ديني مدرسو، ښوونځيو او پوهنتونونو تر دروازو پورې، په خپل لاس، ور ورسوئ، څو ستاسې له افغاني او پښتني ننګ او غيرت نه ډکې او اوچتې شملې او له پښتنې او افغاني حيا او درنښت نه ډک پړونې، دغسې درانه، رپانده او ځلانده پاتې شي!

**يادونه: پاتې برخه په راتلونکې ګڼه کې خپرېږي.**

ZERAI
Afghanistan Science Academy (ASA)

**Editor - In - Chief:**
Associate Professor.
Dr. Muhammad Ishaq Khawreen

**Assistant:**
Assistant Prof. Pokhtoon Pokhtoon

*Compose and Design:*
Dr. Khawreen

**Address:** Center for Languages and Literature, Institute of Pashto Language and Literature (ASA) Shahr-E Now Kabul, Afghanistan
**Contact:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:**zerai1316@asa.gov.af >< zerai1316@gmail.com